# ټانک؛ د خوارج پر وړاندې د امنیتي ځواکونو لویه بریا 7 تنه ترهګر ووژل شول

د ټانک په شاوخوا سیمو کي دامنیتي ځواکونو لخوا داستخباراتي معلوماتو په اساس عملیات شوي دي۔ 7 خوارجیان جهنم ته لیګدول شوي۔ ګڼ شمېر ټپیان، وسلې، مهمات، لاسي بمونه او مخابراتي وسایل ترلاسه شوي۔

**د تفصیلاتو له مخې، امنیتي ځواکونو د ترهګرو د موجودګي په اړه د پټو معلوماتو په اساس هغه مهال محاصره کړل کله چې دوی په خپل کمین کې د ترهګریزو عملیاتو پلان درلود۔ په متقابلو ډزو کې 7 تنه خوارجان ووژل شول، په داسې حال کې چې د امنیتي ځواکونو ټول منسوبین محفوظ پاتي شوي دي۔**

**وژل شوي ترهګر د عصمت الله شاهین په ډلې پورې اړه لري چې دوه ورځې وړاندې یې دوه پولیس شهیدان کړي وو۔**

په ټانک او شاوخوا سیمو کې امنیتي ادارې په خورا زړورتیا سره د خوارج پټنځایونه په بریالیتوب سره پاکوي او خوارج له درنې مرګ ژوبلې سره مخامخ دي۔ د هیواد د میړنیو بچیانو وینه به هیڅکله ضایع نشي او امنیتي ارګانونه به د سولې د ټینګښت لپاره د خوارجو په له منځه وړلو کې تر اخر حد پورې زي۔ انشاالله